# د سلسلۀ قادریه


# 8 بنیادونه

**10-September-2024**

هفته وراه د سنّتو ډکه اجتماع کښې کېدونکے

د سنّتو ډک بیان

**(for Islamic Brothers)**



پۀ 10 اکتوبر کال 2024ء (متوقع اِسلامي تاریخ: 5 ربیعُ الآخر، کال 1446ھ) د پاکستان پۀ هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# د سلسلۀ قادریه 8 بنیادونه

پۀ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ---د قادري کیدلو فضائل
- ---پۀ خلقو کښې افضل څوک---؟
- ---د ښه او بد پیژندګلو
- ---لور د اللّٰه پاک نعمت دے

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُالْعِلْمِیَۃ

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اِسلامی)

***For Feedback***:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د اربعين عطّار، قسط: 2، صفحه: 4، حديثِ پاک نمبر: 4 دے:

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: اِنَّ لِلّٰهِ مَلَائِکَةً سَیَّاحِیْنَ فِی الْاَرْضِ یُبَلِّغُوْنَ عَنْ اُمَّتِی السَّلَامَ يعني په زمکه باندې څۀ فرښتې ګرځي کومې چې زما د اُمَّت سلام ما ته رارسوي- [1]

آپ عطّار کیوں پریشان ہیں
بدسے بدتر بھی زیرِ داماں ہیں
اُن پہ رحمت وہ خاص کرتے ہیں
جو مسلماں سلام کہتے ہیں

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په حديثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار په نيتونو دے- [2]

اے د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! په ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي- راځئ

---

[1]...ابن حبان، حدیث: 910-

[2]...بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ: 65، حدیث: 1-

چې د بيان اوريدو نه مخکښې څۀ ښۀ ښۀ نِيَّتونه وکړو: مَثَلاً ❀ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❀ پۀ اَدب به کښينم ❀ ښۀ پۀ توجُّه به بيان اورم ❀ څۀ چې واورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د قبر د سوالونو نه نجات حاصل شو

منقول دي چې دبغداد شريف د يوې مقبرې نه د مړي د چغو اواز راتلو د هغې پۀ باره کښې غوث پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ته ووئيلو شو نو هغوي تپوس وکړو:آيا د دغه قبر والا زما سره څه نسبت شته؟خلقو عرض وکړو:حضور والا! د دې مونږ ته علم نشته دے،بيا هغوي تپوس وکړو:څنګه هغه چرته زما اجتماع ته راغلے؟خلقو عرض:بنده نواز!د دې هُم مونږ ته علم نشته-د دې نه پس هغوي تپوس وکړو:آيا هغه کله ماپسې نمونځ کړے؟خلقو عرض وکړو:مونږ ته د دې په باره کښې هُم څۀ معلومات نشته-د هغې نه پس هغوي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه مُراقبه وفرمايله-دهغوي د مخ مبارک نه جلال،هيبت او وقارظاهريدل شروع شو،هغوي سرمبارک اوچت کړو او وئې فرمائيل:ماته ووئيل شوچې دغه کس ستاسو زيارت کړے دے،په تاسو به ئې ښۀ ګومان ساتلو،ستاسو سره به ئې محبت لرلو،دې وجه نه پۀ هغۀ باندې رحم وکړے شو د هغې نه د هغه قبر نه کله هُم اواز وانه وريدوشو (3)

مُرِيْدِیْ لَاتَخَفْ فرماتے آؤ
بَلاؤں میں ہے یہ ناشاد یاغوث

اندھیری رات جنگل میں اکیلا
مدد کا وقت ہے فریاد یاغوث

حسنؔ منگتا ہے دے دے بھیک داتا
رہے یہ راج پاٹ آباد یاغوث (1)

---

1...ذوقِ نعت، صفحہ:25-

وضاحت: یا غوثِ اعظم دستګیر! ستا غلام د څلورو واړو طرفونو نه بلاګانو راګیر کړے دے، د قبر تیارۀ شپه ده، د مدد وخت دے مُرِيۡدِیۡ لَا تَخَفۡ (یعني اے زما مُریده هیڅ غم مۀ کوه) زیرے راکړئ او د مدد د پاره تشریف راوړئ! د خپل حَسَن پۀ جولۍ کښې خیرات واچوئ! اللّٰه پاک دې ستاسو آستانه سلامته لري!

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## نسبت فائده ورکوي

خوېږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږه خو اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! منو چې غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د اللّٰه پاک وَلِي دے ❁ مونږه دا هم منو چې د اللّٰه پاک پۀ حضور کښې د ولیانو ډېر لوئي مقام دے ❁ مونږه دا هم منو چې اللّٰه پاک د خپلو ولیانو پۀ وسیله ګنهګاران بندګان بخښي ❁ مونږه دا هم منو، البته د چا پۀ زړۀ کښې وسوسه هم راتلے شي چې بنده ګنهګار وو، صرف د غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د محبت پۀ سبب څنګه وبخښلے شو؟ لهٰذا یو آیت او یو حدیثِ پاک واورئ ! اللّٰه پاک پۀ قرآنِ کریم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَكُوۡنُوۡا مَعَ الصّٰدِقِيۡنَ ﴿۱۱۹﴾ (پاره:11، التوبه:119) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اے ایمان والؤ! د اللّٰه نه ویرېږئ او د رښتینو سره شئ-- |

پۀ دې آیت مبارک کښې وګورئ! د ایمان والا وئیلو سره مخاطب کړے شو، بیا د تقویٰ اختیارولو حکم وفرمائیلے شو، د دې نه پس وفرمائیلے شول: **د رښتینو سره شئ!**

سوال دا دے چې کله ایمان هم میلاؤ شو، تقویٰ هم اختیار کړے شوه، بیا د رښتینو سره د کیدلو څۀ ضرورت دے؟ د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د دې وضاحت کوي او لیکي: د رښتینو سره د کیدلو یو حکمت دا

هم دے چې (دا ربنتوني خو بخښلے شوي دي، دا خو د ډېر شان والا دي، د داسې اعمالو والا دي چې د قيامت په ورځ به د دوئي سره حساب نه کيږي، بغير د حساب نه به جنَّت ته داخلولے شي، د دې سره سره) چې کوم خوش قِسمته د دې ربنتينو سره وي، د هغوئي سره به هم ډېر حساب نه کيږي، ډېر سخت حساب به ورسره نه کيږي بلکې د دې ربنتينو د نسبت په سبب به ورته بخښنه نصيب شي- (1)

## په خوا کښې کښيناستونکے هم بدبخته نه پاتې کيږي

صحابئ رسول حضرت عبد الله بن عبّاس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡھُما فرمائي: يوه ورځ سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حضرت عبد الله بن رواحه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ په خوا تيريدلو، هغه وخت حضرت عبد الله بن رواحه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم ته بيان فرمائيلو- نبئ ذيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې دا وليدل نو د خوشحالۍ نه يــې وفرمائيل: چې کله ستاسو يوه ډله کښيني نو د دې سره هم په دومره شميره کښې فرښتې هم کښيني، که چرې ستاسو ډله سُبۡحٰنَ الله وائي نو فرښتې هم سُبۡحٰنَ الله وائي، که تاسو اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ وايئ نو فرښتې هم اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ وائي او که تاسو اَللّٰہُ اَکۡبَرُ وايئ نو فرښتې هم اَللّٰہُ اَکۡبَرُ وائي- بيا هغه فرښتې د خپل رَبّ په بارګاه کښې حاضريږي حالانکې الله پاک د دوئي نه زيات خبر دے، فرښتې عرض کوي: اے زمونږه رَبَّ! ستا بندګانو ستا پاکي بيانوله نو مونږه هم ستاسو پاکي بيان کړه، هغوئي ستا اوچت والے بيانولو نو مونږه هم ستا او اوچت والے بيان کړو، هغوئي ستا حمد بيان کړو نو مونږه هم ستا حمد بيان کړو- په دې باندې الله پاک فرمائي: اے فرښتو! ګواه اوسئ---!! چې ما دوئي وبخښل- فرښتې عرض کوي: په هغوئي کښې فلانکے بنده ډېر بدکاره دے- الله پاک فرمائي: هغهٔ داسې قوم

---

1...تفسيرِ نعيمی، پاره:11، سورهٔ توبہ: زيرِ آيت:119، جلد:11، صفحہ:225-

دے چې د هغوئي پۀ خوا کښې کښیناستونکے هم بدبخته نه پاتې کیږي- [1]

سُبْحٰنَ الله! څوک چې د الله پاک ذِکر کوي، نیک کارونه کوي، د ذِکر او د درود محفلونه جوړوي، دوئي داسې د اوچتې مرتبې والا دي چې ❀ د دوئي سره پۀ خوا کښې کښیناستونکے که هر څومره ګنهګار ولې نه وي، د هغۀ هم بخښنه او مغفرت نصیب کیږي ❀ د دوئي پۀ صحبت کښې حاضریدونکے هم محرومه او بدبخته نه پاتې کیږي- چې د ذِکر او د درود د محفلونو جوړوونکو دا مرتبه ده نو هُغه د اوچتې مرتبې اولیائے کرام چا ته چې د کتلو سره رَبّ رایادیږي، د هغوئي د صحبت حالت به څۀ وي ❀ د هغوئي پۀ خدمت کښې د حاضرۍ کوونکو ❀ د هغوئي سره د محبت کوونکو ❀ د هغوئي سره د نسبت لرونکو به څومره څومره برکتونه نصیب کیږي-

اللہ! اللہ! کیے جانے سے اللہ نہ ملے | اللہ والے ہیں جو اللہ سے ملادیتے ہیں

## د قادري کیدلو فضائل

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! حُضُورِ غوثِ پاک شیخ عبد القادِر جیلاني رَحْمَۃُاللہِعَلَیْہ د پیرانو پیر، د ولیانو ولي دے- د هغوئي سره نسبت میلاویدل د لوئي سعادت خبره ده- شیخ علي بن هَیتِي رَحْمَۃُاللہِعَلَیْہ فرمائي: **د یو پیر مُریدان هُم دومره سعادت مند نه دي، لکه څومره سعادت مند چې د غوثِ پاک** رَحْمَۃُاللہِعَلَیْہ **مُریدان دي-**

خدا کے فضل سے ہم پر ہے سایہ غوثِ اعظم کا
ہمیں دونوں جہانوں میں میں ہے سہارا غوثِ اعظم کا

پۀ قلائد الجواهر کښې دي، غوثِ پاک رَحْمَۃُاللہِعَلَیْہ وفرمائیل: تر قیامته پورې چې زما پۀ

1 ... مجمع البحرین، کتاب الاذکار، باب مجالس ذِکر الله، جلد:4، صفحہ:192، حدیث:4520 ملتقطاً-

دوستانو، مريدانو او عقيدت مندو کښې څوک هم تيندک خوري، زۀ به د هغۀ لاس نيسم- پۀ يوه موقع باندې يې وفرمائيل: د الله پاک پۀ عزت مې دې قَسم وي! زما لاس زما پۀ مُريد باندې داسې دے، لکه څنګه چې اسمان پۀ زمکه باندې دے، فرض کړه که زما مُريد د اوچتې مرتبې والا نه وي نو هم څۀ وشو، زۀ خو د اوچتې مرتبې والا يم- خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د قادري کيدلو ډېرې فائدې دي- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! څوک چې غوث پاک سره تعلق ساتي نجات به مومي ـالله پاک د غوث پاک سره د هغه د مريدانو د جنت ته د داخلولو وعده کړې ده قادري د رحمت په سمندر غوپې وهونکے اوسي که تاسو اوسه پورې پۀ شرائطو باندې د پوره پير نه بيعت نه وي کړے او دهغوي نه برکتونه حاصلول غواړئ نو مشوره ده چې پۀ سلسله عاليه قادريه کښې مُريد جوړ شئ او د حُضُورِ غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ مُريدانو کښې شامل شئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! پۀ دِين او پۀ دُنيا کښې به مو بے شميره برکتونه نصيب شي-

مُرِيْدِیْ لَاتَخَفْ کہہ کر تسلی دی غلاموں کو
قیامت تک رہے بے خوف بندہ غوثِ اعظم کا

امیرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هم پۀ قادريه سلسله کښې بيعت فرمائي، هسې خو هغوئي ته پۀ سهرورديه، نقشبنديه او چشتيه سلسله کښې د بيعت او خلافت اجازت هم حاصل دے خو د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره د محبت انداز يې دا دے چې هغوئي پۀ بله يوه سلسله کښې نۀ بلکې صرف پۀ سلسله قادريه کښې بيعت فرمائي- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! امیرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پۀ شرائطو باندې پوره پير دے، که تاسو اوسه پورې د چا مُريد نه يئ جوړ شوي نو د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه مُريد جوړ شئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د سلسله قادريه فيضان به جاري شي-

آسیروں کے مشکل کشا غوثِ اعظم
فقیروں کے حاجت رَوا غوثِ اعظم
مریدوں کو خطرہ نہیں بحرِ غم سے
کہ بیڑے کے ہیں ناخدا غوثِ اعظم
وہاں سر جھکاتے ہیں سب اُونچے اُونچے
جہاں ہے ترا نقشِ پا غوثِ اعظم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د سلسلهٔ قادريه 8 بنيادونه

روايت دے چې حضورِ غوثِ پاک رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه خپل شهزاده شيخ عبدُ الرَّزَاق رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ته نصيحت كولو ورته ئي وفرمائيل: ځويه! زما دا طريقه (يعني سلسلهٔ عاليه قادريه) پهٔ دې (8 بنيادونو) باندې مبني ده: (1): كتاب او سُنّت (2): د زړهٔ سلامتي ) (3):سخاوت (4):خير خواهي (5):نور خلق د تكليف نه بچ كول) (6): د لارې نه ضرر رسوونكے څيز لرې كول (7): د خپلو مسلمانانو ورونړو خطا معاف كول) (8):فقر او بے نيازي اختيارول)-

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دا د سلسلهٔ عاليه قادريه 8 بنيادونه دي، يعني څوک چې هم قادري دے، څوک عاشقِ رسول چې هم د حضورِ غوثِ پاک رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه سره خپل نسبت مضبوطول غواړي، د هغوئي فيضان حاصلول غواړي، هغهٔ له پكار دي چې دا 8 كارونه لازمي وكړي-

## (1): د قرآن او د سُنّت پيروي

هغهٔ له پكار دي چې د خپل ژوند بنياد پهٔ قرآن او سُنَّت باندې كيږدي- **پهٔ حديثِ پاک كښې دي:** اِنَّ خَيْرَ الْحَدِيثِ كِتَابُ اللهِ، وَخَيْرَ الْهَدْيِ هَدْىُ مُحَمَّدٍ بے شكه د ټولو نه بهترين كلام د الله پاک كتاب، قرآنِ كريم دے او د ټولو نه بهترين هدايت، هدايتِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے-

ځکه هر مسلمان له پکار دي چې د خپلو معاملو بنياد په قرآن او سُنَّت باندې وساتي- نن سبا دا ډيره غټه مسئله ده چې دلته خلق د خپلو کارونو بنياد په رسم او رواج باندې ږدي، کم خلق دي څوک چې د څۀ کار کولو نه مخکښې شرعي راهنمائي حاصلوي، ګني نو صرف دا کتلے کيږي چې رَسم او رواج څۀ دے؟ زۀ که دا کار وکړم نو خلق به څۀ وائي، که نۀ يـې کووم نو خلق به څۀ وائي- بلکې که ربښتيا وايم نو دا خبره هم زړۀ شوې ده- د خلقو د پيغورونو نه ويريدل، د خلقو نه حيا کول، اګر که ښه خبره ده، حيا د الله پاک نه پکار ده، د الله پاک د رضا د پاره کار کول پکار دي خو بيا هم د خلقو د حيا په وجه د ګناه نه بچ کيدل تر څۀ حده پورې صحيح دي خو اوس خو خبره د دې نه هم مخکښې تلې ده، اوس د سوشل ميډيا دور دے، اوس خو ډير ځلمي دا سوچ هم نه کوي چې خلق به څۀ وائي- بس څۀ چې يـې په زړۀ کښې راځي کوي يـې، اوس خو وائي: **په خلقو څۀ، څۀ چې وائي نو وائي دې، مونږ له ژوند په خپله خوښه تيرول دي**، د فيشن په نوم باندې شليدلے پينټ اچول دي، بے پرده کيدل دي، صرف د ګټې د پاره، د شهرت د پاره، د دروغو د عزت د پاره د کور زنانه د سوشل ميډيا ښکلا جوړولے شي، زمونږه مشرقي معاشره د دې خبرې اجازت چرته ورکوي خو څۀ وه وئيلے شي، خلق به څۀ وائي، اوس خو د دې نه هم مخکښې ګام واخستے شو چې شريعت څۀ وائي نو وائي دې، خلق چې څۀ وائي نو وائي دې، مونږ ته بس خپله مرضي کول پکار ده ، په خپلو خواهشاتو پسې تلل پکاردي او د ګناهونو په ډنډه کښې اختل دي- لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰہ-

## نافرماني کوونکي هلاک شول

الله پاک دې زمونږه په حال باندې رحم وکړي- **خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** ياد ساتئ! مسلمان په هر حال کښې د الله او د رسول صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د فرمان پابند دے- **په**

**حديثِ پاک کښې دي:** رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: زما او زما د راوړي شوي دِين مثال داسې دے لکه چې يو ګس دے، هغۀ خپل قوم ته وائي: اے خلقو! يو غټ لښکر ستاسو طرف ته رارِوان دے، ما هغه پۀ خپلو سترګو باندې ليدلے دے، اے زما قومه! د نجات کوشش وکړئ! اوس قوم دوه ډلې شو **(1):** يوې ډلې خو د هغه ګس خبره ومنله او د لښکر نه د بچ کيدو انتظام يې وکړو **(2):** دويمې ډلې خبره اونه منله، د هغه ويرونکي نه يې انکار وکړو، اوس څۀ وشول چې لښکر راورسيدو او هغه انکار کوونکي يې تباه او برباد کړل- پس دا زما د اطاعت کوونکو او نافرمانئ کوونکو مثال دے (چې چا زما فرمانبرداري وکړه، زما د راوړے شوي دِين پيروکار شو، هغۀ به د هلاکت نه بچ شي او چا چې زما نافرماني وکړه، زما د راوړے شوي دِين نه يې انکار وکړو، هغۀ به تباه او برباد شي)- (مشکاة)-

الله! الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! وګورئ څومره واضحه مثال دے- نن بعضې خلق پۀ فيشن پوهيږي خو پۀ شريعت نه پوهيږي، د خپل نفس پۀ خواهشاتو پوهيږي خو د دِين پۀ خبرو باندې نه پوهيږي، ياد ساتئ! نن موقع ده، مونږ له دِين او شريعت خپل پيشوا جوړول پکار دي، که چرې دا موقع تيره شوه، حضرت ملک الموت عَلَیْہِ السَّلَام تشريف راوړلو، ساه ګاني ختمې شوې، رُوح وه وتلو، بيا به موقع نه ميلاويږي، که چرې نن پۀ خواهشاتو پسې روان شو نو الله دې نه کړي! پۀ قبر کښې راګيريدے شو، بيا به صرف او صرف هلاکت وي- ځکه نن موقع ده، قرآن او سُنَّت خپل پيشوا جوړ کړئ! د خپل هر کار بنياد پۀ معاشره باندې نۀ، پۀ خپلو خواهشاتو باندې نۀ بلکې پۀ دِين او شريعت باندې وساتئ! د هر يو کار کولو نه مخکښې د شرعِي راهنمايئ حاصلولو عادت جوړ کړئ!

## پۀ مسلمان باندې پۀ هر حال کښې درې کارونه لازمي دي

حضورِ غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه فرمائي: پۀ هر مسلمان باندې پۀ هر حال کښې (یعني که ورځ وي، که شپه وي، که یخني وي، که ګرمي وي، که خوشحالي وي، که غم وي، که مصروفیت وي، که وزګار وي، غرض دا چې تر څو پورې پۀ بدن کښې ساه وي، تر څو پورې چې عقل سلامت وي، ساه اخستے کیږي تر هٰغه وخته پورې پۀ هر مسلمان باندې) درې خبرې لازمي دي:

(1): اَمۡرٌ يَمۡتَثِلُهٗ د شریعت حُکم چې پۀ دې باندې عمل وکړي (2): نَهۡيٌ يَجۡتَنِبُهٗ د شریعت د منع کړے شوۀ خبرو نه ځان بچ کړي (3): قَدۡرٌ يَرۡضٰى بِهٖ تقدیر چې پۀ دې باندې همیشه راضي وي۔

حضورِ غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه نور فرمائي: ❀ د مسلمان ادنیٰ حالت دا دے چې هغۀ پۀ یو وخت کښې هم پۀ دې درېو خبرو کښې د یوې نه خالي نه وي ❀ د هغۀ زړۀ د دې درېو خبرو پخه اراده کوي ❀ بنده د خپل ځان ته دا درې خبرې بیانوي ❀ او خپل اندامونه هر وخت پۀ دې کښې مصروف ساتي۔ [1]

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

## (2): دویم بنیاد: قَلبِ سلیم

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د سلسلۀ عالیه قادریه دویم بنیاد قَلبِ سلیم دے۔ الله پاک پۀ قرآنِ کریم کښې ارشاد فرمائي:

---

1...فتوح الغیب، صفحہ:17۔

يَوۡمَ لَا يَنۡفَعُ مَالٌ وَّ لَا بَنُوۡنَ ﴿۸۸﴾
اِلَّا مَنۡ اَتَى اللّٰهَ بِقَلۡبٍ سَلِيۡمٍ ﴿۸۹﴾

(پاره:19، سورۀ شعراء، آیت:88-89)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: پۀ کومه ورځ به چې نۀ مال پۀ کار راځي او نۀ ځامن- خو هٰغه چې څوک به د الله پۀ بارګاه کښې د سلامت زړۀ سره حاضریږي-

معلومه شوه چې د قیامت پۀ ورځ به نۀ مال پۀ کار راځي، نۀ به اولاد پۀ کار راځي، د قیامت پۀ ورځ به قلبِ سلیم پۀ کار راځي- قلبِ سلیم څۀ ته وئیلے شي؟ ❀ هٰغه زړۀ کوم چې د کُفر او شِرک نه پاک وي ❀ پۀ کوم زړۀ کښې چې بده عقیده نه وي ❀ هٰغه زړۀ کوم چې د باطني بیمارو نه پاک وي ❀ پۀ کوم کښې چې حسد نه وي ❀ بغض نه وي ❀ کینه نه وي ❀ د دُنیا محبت نه وي، داسې پاک زړۀ والا به د قیامت پۀ ورځ کامیاب وي-

## پۀ خلقو کښې افضل څوک---؟

حضرت عبد الله بن عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہما فرمائي: د خوږ آقا، د نور والا مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ بارګاه کښې عرض وکړے شو: اَیُّ النَّاسِ اَفۡضَلُ؟ یا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! پۀ خلقو کښې څوک افضل دے؟ اوئې فرمائیل: کُلُّ مَخۡمُوۡمِ الۡقَلۡبِ، صُدُوۡقِ اللِّسَانِ هر یو هٰغه بنده کوم چې مَخۡمُوۡمُ الۡقَلۡب دے او رښتوني ژبې والا دے- صحابه کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم عرض وکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! صُدُوۡقُ اللِّسَان (یعني رښتوني ژبې والا) څۀ ته وئیلے شي، دا خو مونږه پیژنوخو مَخۡمُوۡمُ الۡقَلۡب څوک دے؟ اوئې فرمائیل: متقي ګس پۀ چا باندې چې هیڅ ګناه نه وي، د هغۀ پۀ زړۀ کښې نۀ سرکشي وي، نۀ کینه وي، نۀ حسد وي-[1]

معلومه شوه چې ❀ د چا ژبه رښتونې وي ❀ دروغ نه وائي او د چا زړۀ کښې چې

1...ابنِ ماجه، کتابُ الزُّہد، جلد:4، صفحه:475، حدیث:4216-

سرکشي نه وي ❀ نهٔ پکښې کينه وي ❀ نهٔ پکښې بغض وي ❀ نه پکښې د حَسَد نه سوزيدل وي ❀ هٰغه بنده ډير د فضيلت والا دے- اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پهٔ بارګاهِ رسالت کښې استغاثه وړاندې کوي:

جھوٹ سے بغض و حسد سے ہم بچیں | کیجئے رحمت اے نانائے حُسین!

## درې کرته د جنَّت زيرے ميلاؤ شو

صحابئ رسول حضرت انس بن مالِک رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: مونږ د مالِکِ جنَّت، قاسِمِ نعمت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ خدمت کښې حاضر وو، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: يَطْلُعُ عَلَيْكُمُ الْآنَ مِنْ هٰذَا الْفَجِّ رَجُلٌ مِنْ اَهْلِ الْجَنَّةِ اوس به ستاسو خوا له پهٔ دې لار باندې يو جنَّتي انسان راځي- نو يو انصاري صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ پهٔ هٰغه ځائے باندې راغلو، د هغوئي ګيره د اوداسه پهٔ اوبو باندې لمده وه، پهٔ ګڅ لاس کښې يې پيزار راخستے وو او راروان وو-

پهٔ دويمه ورځ بيا آخري نبي، مکي مَدَني صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: اوس به ستاسو خوا له پهٔ دې لاره باندې يو جنَّتي انسان راځي- پهٔ دويمه ورځ هم هٰغه صحابي راغلو، پهٔ دريمه ورځ بيا هم داسې وشول- حضرت عبد الله بن عَمرو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: بيا خو زهٔ د هٰغه انصاري صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ کور ته لاړم او درخواست مې وکړو چې زهٔ ستاسو ميلمه کيدل غواړم- نو زهٔ درې شپې د هغوئي سره ووم، پهٔ دغه وخت کښې ما دا د شپې پهٔ قيام (يعنې د نفلونو پهٔ کثرت) اونه ليدلو، آؤ! دومره ضرور وو چې هغوئي به پهٔ خپله بستره باندې پهٔ ډېره اغوښتو نو ذِکرُ الله به يې کولو- يو ښه عادت د هغوئي دا هم وو چې هغوئي به ښې خبرې کولې يا به خاموشه وو- چې کله درې شپې تيرې شوې نو ما هغوئي ته اصلي خبره وکړه چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم درې ورځې پرله پسې د جنَّت زيرے عطا کړو او درې واړه ورځې د دې زيري مُستَحِق هم تاسو شوئ- ما غوښتل چې ستاسو سره ايسار شم او ستاسو عمل وه وينم، خو ما ستاسو څهٔ زيات عمل اونه ليدلو- هٰغه صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ

وفرمائيل: زما عمل خو هم هُغه دے کوم چې تاسو ليدلے دے، **البته يو عمل بَل دے هغه دا چې زۀ د يو مسلمان د پاره پۀ زړۀ کښې کينه نه ساتم او نۀ يو مسلمان ته پۀ ميلاويدونکي نعمت باندې حَسَد کووم**- حضرت عبد الله بن عَمرو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ وفرمائيل: آؤ! هم دا هُغه صفت دے کوم چې تاسو دې مقام ته رارسولي يئ- [(1)]

سُبْحٰنَ الله! اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! تاسو وکتل! زړۀ پاک ساتل، پۀ زړۀ کښې د چا بغض او کينه نه ساتل، د چا سره حَسَد نه کول، د چا پۀ باره کښې پۀ زړۀ کښې څۀ خيرے نه ساتل جنَّت ته بوتلونکے عمل دے او بل خوا غور وکړئ چې پۀ زړۀ کښې بغض لرونکے، د حَسَد مار پۀ زړۀ کښې پاللو والا څومره بد بخته دے چې د بخښنې او مغفرت نه محرومه پاتې کيږي، ځکه مونږ له پکار دي چې خپل زړۀ صفا کړو، که چرې د چا پۀ باره کښې پۀ زړۀ کښې څۀ خيرے دے نو هغه د زړۀ نه لرې کړو، که د چا سره څۀ خفګان دے نو ختم يې کړو، که د چا رشته دار سره څۀ خفګان دے، پۀ څۀ دنيائي مسئله باندې جګړه ده، پۀ خپل مينځ کښې لرې والے دے نو هغه ختم کړو- د دواړو جهانونو تاجدار، مکي مَدَني سردار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوک چې پۀ ناحقه باندې وي او جګړه پريږدي، الله پاک به د هغۀ د پاره د جنَّت پۀ ګوټ کښې کور جوړ کړي **او څوک چې پۀ حق باندې وي او جګړه پريږدي، الله پاک به د هغۀ د پاره د جنَّت د اوچتې درجې والا ځائے کښې کور جوړ کړي**- [(2)]

اُمَّتِ محبوب کا یارَبّ بنا دے خیر خواہ | نفس کی خاطِر کسی سے دِل میں میرے ہو نہ بَیر

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

[1]... شُعَبُ الایمان، جلد:5، صفحہ:264، حدیث:6605۔

[2]... ترمذی، کتابُ البر والصِّلۃ، جلد:3، صفحہ:400، حدیث:2000۔

## (3): دريم بنياد: سخاوت

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د سلسلۀ عاليه قادريه دريم بنياد سخاوت دے۔
يو ځل حُضُورِ غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خپله مدرسه کښې بيان وفرمائيلو، په دې کښې هغوئي وفرمائيل: اے مالدارو! که د دُنيا او د اخرت خير غواړئ نو د خپل مال په ذريعه د غريبانانو سره همدردي وکړئ! بيا غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يو حديثِ پاک بيان کړو: [1] د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: خلق د الله پاک عِيَال (يعني بندګان) دي، د الله پاک زيات خوښ هغۀ دے څوک چې د الله پاک عِيَال ته زياته فائده رسوونکے وي۔ [2]

## د يو پريشانه غريب زړۀ ساتل

د اَبُو عبد الله محمد بن خضر حسيني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه روايت دے چې يوه ورځ د سرکارِ غوثِ اعظم شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نظر په يو پريشان حاله فقير پريوتو، يو مسلمان يې چې د درد او غم په حالت کښې وليدلو نو حُضُورِ غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بے تابه شو او پوښتنه يې وکړه: مَا شَاْنُكَ يعني په تا څۀ شوي دي؟ فقير په جواب کښې عرض وکړو: عالي جاه! زۀ په دجله درياب پورې وتل غواړم خو پيسې راسره نشته، ماڼکے (يعني کشتۍ چلولو والا) د کرايه نه بغير په کشتۍ کښې په کښينولو راضي نه دے۔ د ماڼکي په دې رويه باندې زما زړۀ مات شو چې که زما سره پيسې وے نو زۀ به داسې نه مايوسه کيدم۔
راوِي وائي: فقير لا خپله خبره پوره کړې نه وه چې يو کَس په بارګاهِ غوثيت کښې حاضر

1...فتح الرحمٰن، صفحه:127۔
2...موسُوعه ابنِ اَبِي دُنيا، کتاب: قضاء الحوائج، جلد:4، صفحه:159، حديث:24۔

شو، هغهٔ د غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه پهٔ خدمت کښې يوه تيلۍ د نذرانې پهٔ طور وړاندې کړه، پهٔ دې تيلۍ کښې 30 ديناره (يعنې د سرو زرو سِکې) وې، غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه هغه 30 واړه ديناره هغه غريب له ورکړل او اوئې فرمائيل: دا ټول دينار ماڼکي له ورکړه او ورته وه وايه چې هغهٔ بيا د پاره يو غريب د درياب نه د اړولو نه انکار نه کوي-[1]

| | |
|---|---|
| اسيروں کے مشکل کشا غوثِ اعظم | فقيروں کے حاجت روا غوثِ اعظم |
| گھرا ہے بلاؤں ميں بندہ تمہارا | مدد کے لئے آؤ يا غوثِ اعظم |

## د سخاوت فضائل

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! وګورئ! حضورِ غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه څومره سخي دے، يو غريب يې چې پهٔ خراب حالت کښې وليدو نو بے تابه شو، فوراً يې د هغهٔ مدد وکړو- مونږ له هم پکار دي چې سخاوت اختيار کړو- الله پاک چې څومره راعطا کړې ده، پهٔ دې کښې چې څومره اساني وي، څهٔ نا څهٔ حصه د صدقې او خيرات د پاره هم ضرور وساتو، سخاوت وکړو- او عرض کوم: د سخي کيدلو د پاره ډيرې پيسې نهٔ بلکې د غټ زړهٔ ضرورت دے- ډير خلق دي د چا سره چې ښې ډيرې پيسې دي خو زړونه يې واړه دي، ځکه که مال کم هم وي نو زړهٔ غټ ساتئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د سخاوت دولت به مو نصيب کيږي- د دې فضائل څهٔ دي؟ واورئ!

✿ سخاوت د جنَّت پهٔ وَنو کښې يوه وَنه ده، د کومې ښاخونو چې د زمکې طرف ته راښکته دي، کوم کس چې پهٔ دې کښې يوه ښاخکه ونيسي، هغه هغهٔ د جنَّت طرف ته بوځي-[2] ✿ د سخي غلطي معاف کوئ، ځکه چې کله هغهٔ غلطي کوي نو الله پاک د

[1] ...بهجة الاسرار، صفحہ:199۔
[2] ...شعب الايمان، باب في الجود والسخاء، ۷/۴۳۴، حديث:۱۰۸۷۵۔

هغهٔ لاس نيسي [1] يعنې الله پاک د هغهٔ مددګار وي چې هغهٔ پهٔ هلاکت کښې د اخته کيدو نه بچ کوي- [2] ❀ جنَّت د سخيانو کور دے- [3] ❀ سخي الله پاک ته نزدې دے، جنَّت ته نزدې دے، خلقو ته نزدې دے، د وور نه لرې دے- [4]

## (4): څلورم بنياد: خير خواهي

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د سلسلهٔ عاليه قادريه څلورم بنياد **خير خواهي** ده- يعنې د الله پاک د مخلوق د پاره هميشه خير غوښتل، چې د چا پهٔ باره کښې هم څهٔ بد زمونږ پهٔ زړهٔ کښې رانشي، مونږه ټول بس د ټولو د پاره هم د خير طلبګار اوسو- پهٔ حديثِ پاک کښې دي: **خَيْرُالنَّاسِ مَنْ يَّنْفَعُ النَّاسَ يعنې پهٔ خلقو کښې بهتر هغهٔ دے څوک چې خلقو ته فائده رسوي-** [5]

## فائده ورکوونکي جوړ شئ!

يو ډير ښکلے حديثِ پاک درته بيان کړم، صحابي اِبنِ صحابي حضرت عبد الله بن عمر رَضِیَ اللهُ عَنْهما د دې حديث راوي دے، هغوئي فرمائي: يوه ورځ مونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ خدمت کښې حاضر وو، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم نه يوه پوښتنه وکړه: اوئې فرمائيل: اِنَّ مِنَ الشَّجَرِ شَجَرَةً لَا يَسْقُطُ وَرَقُهَا، وَ اِنَّهَا مَثَلُ الْمُسْلِمِ، فَحَدِّثُوْنِيْ مَاهِيَ يعنې پهٔ وَنو کښې يوه وَنه ده، د هغې پاڼې نهٔ رژيږي، د هغې مثال د مسلمانانو پهٔ شان دے، وه وايئ چې هغهٔ ونه کومه يوه ده؟

بيا صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم سوچ شروع کړو (چې هغه کومه يوه داسې ونه کيدے شي د

---

1...شعب الايمان، باب في الجود والسخاء، ۷/۴۳۳، حديث:۱۰۸۶۷-
2...اتحاف السادة المتقين، ۹/۷۲۵، ملخصاً-
3...فردوس الاخبار، ۱/۳۳۳، حديث:۲۴۳۰-
4...سنن الترمذي، کتاب البر والصلة، باب ماجاء في السخاء، الحديث:۱۹۶۱، ج۳، ص ۹۲-
5...کنز العمال، کتاب المواعظ والرقاق، جز:16، جلد:8، صفحه:54، حديث:44147-

کومې پاڼې چې هم نۀ رژیږي او د هغې مثال د مسلمان پۀ شان دے، چا څۀ سوچ کولو، چا څۀ سوچ کولو)- حضرت عبد الله بن عمر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُما فرمائي: زما پۀ ذِهن کښې د دې پوښتنې جواب راغلو (خو زۀ وړوکے ماشوم ووم، زما نه د زیات عمر صحابۀ کرام رَضِیَ اللہُ عَنۡہُم موجود وو)، ځکه د هغوئي نه د حیا پۀ وجه ما جواب ورنکړو، آخر خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هم پخپله وفرمائیل: هِیَ النَّخۡلَةُ یعني دا د کجورې وَنه ده- [1]

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دا یو حدیثِ پاک مونږ واوریدو، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د یوې وَنې ذِکر وفرمائیلو، د کومې مثال چې د مسلمان پۀ شان دے او هُغه ونه کومه یوه ده؟ د کجورې وَنه ده- علمائے کرامو پۀ دې ځائے کښې یوه پوښتنه پورته کړې ده، هغه دا چې د کجورې پۀ ونه کښې آخر داسې څۀ خاص خبره ده؟ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دې ته د مسلمان پۀ شان ولې وفرمائیله؟ د دې پوښتنې پۀ جواب کښې علمائے کرام فرمائي: د کجورې ونه ټول خیر او ښیګړه ده، د دې هر جُز، هره یوه حصه فائده ورکوي، فائده منده ده: ❁ د کجورې د پاڼو نه چټاياني جوړيږي، د دې نه رسۍ هم جوړولے شي، مخکښې به د کجورو د پاڼو نه د ډوډۍ کیښودو د پاره شکورونه هم جوړولے کیدل ❁ دغه شان د کجورې د پوستکي نه وور هم بلیږي، مخکښې به د مالوچو پۀ ځائے دا پۀ تکیه کښې هم استعمالیدله ❁ د کجورې تنه د ستنې جوړولو پۀ طور هم استعمالیږي، مخکښې به دا پۀ چتونو کښې د ګاډر پۀ ځائے هم استعمالیدله ❁ دغه شان د کجورې د هډوکي هم ډیرې فائدې دي، دا د څاروو پۀ خوراک کښې استعمالیږي، دا چې وټکوې او استعمال یې کړې نو پۀ طِبي طور ډیره فائده منده ده ❁ باقي پاتې شوه کجوره نو هغۀ ډیره فائده منده میوه ده، پۀ میوؤ کښې د ټولو نه زیاته طاقتوره او زیاته فائده رسوونکې میوه

1...بخاری، کتاب العلم، باب قول المحدث: حدثنا واخبرنا وانبانا، صفحہ: 88، حدیث: 61۔

کجوره ګڼلے کيږي ❀ د ساه لنډي، زړۀ، ځيګر، ګُردو، مثانې، پتے او د کولمو پۀ بيمارو کښې کجوره ډيره فائده منده ده ❀ دا بلغم راوباسي او د خُلې نه خُشکي ختموي- غرض دا چې د کجورې د ونې ډيرې فائدې دي-

دغه شان د مؤمِن بنده هم داسي مثال دے، مؤمِن بنده هم صرف او صرف فائده مند وي، د دۀ هيڅ نقصان نه وي- دا بس صرف نورو ته فائدې رسوي-

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږه اَلْحَمْدُ لِلّٰه! مسلمانان يو خو لږ غور وکړئ! آيا مونږه هم د خپلو مسلمانانو ورونړو د پاره فائده مند يو، آيا مونږه د خپلو مسلمانانو ورونړو خير خواهي کوو؟ افسوس چې اوس خو د نورو بد غوښتلے- آؤ جي! رښتيا وايم ❀ څوک چې د چاخير غواړي هغۀ پښې شا د چا بد بيانوي؟ دلته خو غيبت عام دے ❀ څوک چې دچاخير غواړي، آيا هغۀ چغلياني کوي؟ دلته خو چغلياني عامې دي ❀ څوک چې دچاخير غواړي هغۀ حسد نۀ کوي ❀ څوک چې دچاخير غواړي هغۀ بغض نۀ ساتي ❀ څوک چې دچاخير غواړي هغۀ پيغورونه نۀ ورکوي ❀ څوک چې دچاخير غواړي هغۀ خپلې فائدې ته نۀ ګوري، د نورو فائدې ته ګوري-

خو افسوس چې دلته دا ټول خيزونه عام دي ❀ غيبت عام دے ❀ چغلي عامه ده ❀ دروغ عام دي ❀ بغض عام دے ❀ کينه عامه ده ❀ حسد عام دے او پاتې شوه خبره خپلې فائدې ته د کتلو نو د دې خو هډو تپوس مۀ کوئ! هر خوا نفسا نفسي ده، بس خپلې فائدې ته کتلے شي، د نورو فِکر کوونکي خو بس هم لږ پاتې دي- نورو ته فائده رسوونکي څنګه وي، واورئ!

## تر 30 کالو پورې يې ژړل

خواجه ابو الحسن نوري رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه نيک بزرګ دے، د هغوئي پۀ بازار کښې دُکان وو، يوه ورځ هغوئي پۀ کور کښې وو، څوک راغلل او ورته يې وه وئيل: پۀ بازار کښې وور لګيدلے

دے- د هغوئي سره فِکر شو چې هسې نه زما دُکان هم وسوزي، نو زر بازار ته لاړو، چې اوئې وکتل نو د هغوئي دُکان سلامت وو، د نورو ډېرو خلقو دکانونه سوزيدلي وو- د هغوئي دُکان وورِ نه وو اخستے، ځکه هغوئي د الله پاک شُکر ادا کړو او اوئې وئيل: اَلْحَمْدُ لِلّٰه!

لا يـې دا وئيلي نه وو چې فوراً يـې پۀ زړۀ کښې خيال راغلے، دا ما څۀ وکړل، زما نقصان اونه شو، دا جُدا خبره ده خو د مسلمانانو ورونړو نقصان خو شوے دے، آيا زۀ د مسلمانانو ورونړو پۀ نقصان باندې د الله پاک شُکر ادا کووم، صرف دا يوه معامله وشوه، دکانونو ته وورِ هغوئي نه وو لګولے، نقصان ورته هغوئي نه وو رسولے او هغوئي چې کوم شُکر ادا کړے وو هغۀ يـې هم د خپل دُکان پۀ بچ کيدو باندې ادا کړے وو خو پۀ دې اَلْحَمْدُ لِلّٰه! وئيلو کښې د هغوئي توجه د مسلمانانو ورونړو د نقصان نه لرې شوې وه، د هغوئي غم يـې پۀ زړۀ کښې نه وو راغلے، نو داسې پۀ غلطه موقع باندې د اَلْحَمْدُ لِلّٰه! وئيلو پۀ وجه هغوئي تر 30 کالو پورې اوښکې توئيولې او توبه يـې کوله-

اَللّٰهُ اَکْبَر! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا وو خير خواه---!! دا وو د مسلمانانو ورونړو خير غوښتونکي- مونږه څۀ يو؟ مونږ خو بس خپلې فائدې ته ګورو ❀ پۀ خپل کور کښې سکون دے، بس خير دے، د ګاؤنډي غم به زمونږ سره ولې وي ❀ زمونږ پۀ کور کښې ډوډۍ پخه شوې ده، کافي ده، که پۀ ګاؤنډ کښې څوک وږے دے نو زمونږ پرې څۀ، کاش چې زمونږه دا ذِهن پاتې نه شي، کاش چې مونږه د نورو خير غوښتونکي جوړ شو- الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## (5): پينځم بنياد: تکليف نۀ رسول

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د سلسلۀ عاليه قادريه پينځم بنياد دے: کَفُّ الْاَذٰى يعنې نورو ته تکليف نه رسول- دا هم ډېر اهم بنياد دے- د دې نه بغير هم بنده د الله پاک

قرب نشي حاصلولے- ځکه مونږ له پکار دي چې مونږه نور د تکلیف نه بچ کوو- کوم بنده چې نور د تکلیف نه بچ کوي، الله پاک پۀ هغوئي باندې ډیر کرم کوي-

## د کور ودانې يـې سمدستي شِفا نصيب شوه

امام شعراني رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: يو ځل زما کور ودانې ډيره ناروغه وه، تر دې پورې چې د هغې حالت ته يـې وکتل نو کور والا پوهه شول چې بس د دې آخري وخت راغلے دے، زۀ هم ډير پريشانه ووم، پۀ دې کښې ما ته يو غيبي اواز وشو: چې پۀ فلانکي سوري کښې يو مچ دے، هغه يو غټ مچ ګير کړے دے، تۀ هُغه مچ راخلاص کړه مونږه به ستا کور وداني ته شفا ورکړو- امام شعراني رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: زۀ فوراً پاخيدم، سوري ته ورنزدې شوم، چې اومې کتل نو ډير وړوکے سورے وو، ما يو ډکے پۀ سوري کښې ورکړو، واقعي چې هلته يو مچ وو کوم چې بَل غټ مچ پۀ خُله کښې نيولے وو، څنګه چې ما هُغه مچ راخلاص کړو نو فوراً الله پاک زما کور وداني ته شِفا عطا کړله- (1)

سُبۡحٰنَ الله! چې د يو وړوکي شان مچ د تکليف نه پۀ بچ کولو دومره کرم دے نو غور وکړئ! چې کله مونږه د الله پاک بندګان د تکليف نه بچ کړو نو د دې به څومره فضائل نصيب کيږي-

## د ښو او بدو پيژندګلو

يو ځل رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابۀ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم ته وفرمائيل چې آيا زۀ تاسو د ښو او بدو نه خبر نکړم؟ ټول خاموشه وو، درې کرته يـې هم دغه پوښتنه وکړه: نو يو کَس عرض وکړو: آؤ جي! يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! مونږه زمونږه د ښو او بدو نه خبر کړئ! اوئې فرمائيل: ستاسو ښه هُغه کَس دے د چا نه چې

---

1... لواقح الانوار القدسیه، العهد السابع والسبعون بعد المائة، جلد: 1، صفحه: 574-

د خير طمع وکړے شي او د چا د شَر نه چې اَمن وي، او ستاسو بد هغه کَس دے د کوم نه چې د خير طمع اونه کړے شي او د کوم د شَر نه چې امن نه وي- (1)

خورو او محترمو اِسلامي ورونو! قاعِده کليه محبوبِ ذيشان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وښودله، اوس دې پرې غور مونږه ټپله وکړو، آيا مونږه داسې يو چې خلق زمونږ نه د خير طمع ساتي او د بدو نه مو محفوظ وي، که چرې داسې يو نو د اللّٰه پاک شُکر ادا کول پکار دي، که داسې نه يو نو ويريدل پکار دي-

## هغۀ ايمان والا نشي کيدے څوک چې---!!

يو ځل د اللّٰه پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم درې کرته په اللّٰه پاک باندې قَسم وخوړو، اوئې فرمائيل: وَاللّٰهِ لَا يُؤْمِنُ په اللّٰه مې دې قَسم وي! هغۀ مؤمِن نشي کيدے وَاللّٰهِ لَا يُؤْمِنُ په اللّٰه مې دې قَسم وي! هغۀ مؤمِن نشي کيدے وَاللّٰهِ لَا يُؤْمِنُ په اللّٰه مې دې قَسم وي! هغۀ مؤمِن نشي کيدے- صحابۀ کرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم عرض وکړو: يا رسولَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! څوک مؤمِن نشي کيدے؟ اوئې فرمائيل: اَلَّذِیْ لَا یَاْمَنُ جَارُهٗ بَوَائِقَهٗ هغۀ د چا ګاونډي چې د هغۀ د شَر نه محفوظ نه وي- (2)

خير خواه ہم بھی پڑوسی کے بنیں
یہ کرم یا مصطفےٰ فرمائیے!

نعمتِ اخلاق کر دیجئے عطا
یہ کرم یا مصطفےٰ فرمائیے!

## ګاونډي ته ضرر رسوونکي عبادت ګزاره زنانه

امام بُخاري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه يو حديثِ پاک نقل کړے دے چې يو ځل د اللّٰه پاک د خوږ او آخري نبي، مکي مَدَني صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې عرض وکړے شو: يا رسولَ صَلَّی

1 ...ترمذی، کتاب الفتن، باب(ت:٧٦)، ١١٦/٤، حدیث:٢٢٧٠۔
2 ...بخاری، کتاب:الادب، صفحہ:1500، حدیث:6016۔

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! فلانکۍ زنانه ټوله شپه عبادت کوي، د ورځې روژه نیسي، ډېره نیکه ده، صدقه خیرات هم ډېر کوي خو هغۀ د خپلې ژبې پۀ ذریعه ګاؤنډیانو ته تکلیف رسوي- خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل: لَا خَيْرَ فِيْهَا پۀ هغې کښې هیڅ خیر نشته هِيَ مِنْ اَهْلِ النَّارِ هغۀ د دوزخیانو نه ده- صحابۀ کرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم د یوې بلې زنانه ذِکر وکړو او عرض یې وکړو: یا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! فلانکۍ زنانه فرض نمونځونه کوي، کُچ صدقه کوي او چا ته هم ضرر نه رسوي- ارشاد یې وفرمائیلو: هِيَ مِنْ اَهْلِ الْجَنَّةِ هغۀ جنَّتي زنانه ده- [(1)]

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! نن پۀ دې حدیثِ پاک باندې د بیا بیا غور کولو حاجت دے---! لږ غور خو وکړئ! څوک چې خپل ګاؤنډي ته تکلیف رسوي، هغۀ څومره پۀ نقصان کښې دے خو افسوس چې دلته د دې خبرې خیال نه ساتلے کیږي ❀ خلق د خپل کور ګند راخلي او د ګاؤنډي د دروازې مخې ته یې ږدي ❀ کور کښې وخت پۀ وخت غوبل کوي ❀ شور کوي او د دې خبرې پروا نه کوي چې زمونږ د شور سره ګاؤنډي ته تکلیف رسیدے شي ❀ د چا کره چې واده ښادي وي، بیا لکه چې د ګاؤنډي خوب حرام شو، یو خو د سندرو سازونو ګناه، د پاځه پرې غټې غټې سپیکرې ږدي او پۀ تیز اواز کښې یې غږوي، که چا ته تکلیف رسي، د چا خوب خرابیږي، څوک بیمار دے، هغۀ ته به تکلیف وي، د وړو ماشومانو خوب به خراب شي، د دوئي سره یې هیڅ فِکر نه وي ❀ بعضې خلق د شپې پۀ کور کښې د شور والا کار شروع کړي، اګر چې دا ګناه نه ده خو د شپې پۀ خپل کور کښې هم د داسې کارونو کولو سره د ګاؤنډي خوب خرابیدے شي- ځکه دې داسې کارونه د ورځې وکړے شي د پاره د دې چې ګاؤنډیانو ته تکلیف نه وي-

---

[1]...الادب المفرد، صفحہ:48،حدیث:119-

## زۀ دا خبره نه خوښووم

د الله پاک د يو نيک بنده په کور کښې يو ځل مږې وشولې، د هغوئي دوستانو هغوئي له مشوره ورکړه چې تاسو په خپل کور کښې يوه پيشو وساتئ! د الله پاک هٔغه نيک بنده وفرمائيل: زما سره دا ويره ده چې د پيشو اواز واوري او مږې د ګاونډيانو کره لاړې شي، داسې به زۀ د ګاونډيانو د پاره هٔغه خبره خوښوونکے شم کومه خبره چې زۀ د ځان د پاره نه خوښووم- (1)

اَللّٰهُ اَکْبَر! الله پاک دې زمونږه په بزرګانو باندې رحمت وفرمائي، دوئي د تقویٰ او د پرهيزګارئ څنګه څنګه مثالونه قائم کړي دي، آه! نن سبا خو دلته د ګاونډيانو د پاره هٔغه څۀ خوښولے شي کوم چې يې د ځان د پاره خوښ نه وي ❀ په خپل کور کښې ګند ساتل څوک خوښوي؟ خو د ګند غورځولو ځائے لرې وي، ځکه د ګاونډيانو په دروازه کښې کېښودلے شي ❀ زنانه د کور فرش وينځي، ظاهره ده چې سخا اوبه په دالان کښې ساتل خو نه خوښوي، ځکه يې کوڅې ته پريښودلے شي، د کومو سره چې په کوڅه کښې ختې هم جوړيږي، تيريدونکو ته تکليف رسي- داسې نور ډير صورتونه دي چې خلق يې د ځان د پاره نه خوښوي خو ګاونډيان په هغې کښې اخته کوي- کاش چې مونږه د خپلو مسلمانانو ورونړو خيال ساتونکي جوړ شو، خلق د تکليف نه بچ کوونکي جوړ شو- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## (6): شپږم بنياد: ضرر رسوونکے څيز اوچتول

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د سلسلۀ عاليه قادريه شپږم بنياد دے: د لارې نه ضرر

---

[1]...احياء العلوم، جلد:2، صفحه:771۔

رسوونکے خیز اوچتول-

دا هم ډیر ښکلے او د نیکو نه ډک عمل دے- پهٔ حدیثِ پاک کښې دي: د ایمان د 70 نه څهٔ زیاتې شعبې دي، پهٔ دې کښې د ټولو نه اعلیٰ شعبه لَآاِلٰهَ اِلَّا اللہ وئیل او د ټولو لاندې شعبه د لارې نه ضرر رسوونکے خیز اوچتول دي-

ډیر اسان عمل دے، مونږ له پکار دي چې مونږه دا کار کوو، پهٔ لاره باندې ځو، پهٔ لاره کښې کاڼے پروت دے، ازغے پروت دے، د میوې پوستکے پروت دے، اندیښنه ده چې پهٔ دې باندې به څوک وخوئیږي او راپریوځي به، هغه د ځائے نه لرې کړئ!

## جنَّت یې نصیب شو

د حضرت ابو هریره رَضِیَ اللہُ عَنْهُ نه روایت دے چې آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: یو کَس پهٔ یوه لاره باندې تیریدلو، هغهٔ پهٔ لاره کښې یو ازغن ښاخ ولیدلو نو هغه یې د لارې نه لرې کړو، د الله پاک د هغهٔ دا عمل خوښ شو او هٰغه بنده یې وبخښلو- پهٔ یو روایت کښې دي چې یو کَس د لارې پهٔ مینځ کښې د پروت ښاخ پهٔ خوا تیریدلو نو هغهٔ وه وئیل: پهٔ خدائے مې دې قَسم وي! زهٔ به د مسلمانانو د لارې نه دا ضرور لرې کووم د پاره د دې چې دا هغوئي ته تکلیف اونه رسوي نو هغهٔ جنَّت ته داخل کړے شو- پهٔ یو روایت کښې دي چې ما یو کَس پهٔ جنَّت کښې پهٔ ګرځیدو ولیدلو ځکه چې هغهٔ پهٔ لاره کښې راغورځیدلې یوه وَنه کټ کړې وه کومې چې خلقو ته تکلیف رسولو- (1)

سُبْحٰنَ اللہ! څومره ښکلے عمل دے- الله پاک دې مونږ ته د نیک کار اختیارولو توفیق راعطا کړي- اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

1... صحیح مسلم، کتاب البر والصلة، الحدیث ۱۹۱۴، ص ۱۴۱۰-

## (7): اووم بنیاد: معاف کول

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د سلسلهٔ عالیه قادریه اووم بنیاد دے: معاف کول- څوک که مونږ ته قصداً عمداً یا د قصده نه بغیر تکلیف ورسوي، زمونږه زړه ازار کړي نو مونږ له پکار دي چې هغهٔ معاف کړو- د دې به ډیر برکتونه رانصیب شي- پهٔ حدیثِ پاک کښې دي: مَامِنْ رَجُلٍ يُّصَابُ بِشَيْءٍ فِيْ جَسَدِهٖ فَيَتَصَدَّقُ بِهٖ اِلَّا رَفَعَهُ اللهُ بِهٖ دَرَجَةً وَّحَطَّ عَنْهُ بِهٖ خَطِيْئَةً یعنې د کوم کَس بدن ته چې څهٔ تکلیف ورسیدو او هغهٔ (یعنې تکلیف رسوونکے مسلمان) معاف کړي نو الله پاک د هغهٔ درجې اوچتوي او د هغهٔ ګناهونه ورانوي- [1]

## (8): اتم بنیاد: فقر

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د سلسلهٔ عالیه قادریه اتم بنیاد فقر دے- پهٔ دې ځائے کښې د فقر نه څهٔ مُراد دے، پخپله حضورِ غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِعَلَيْه بیان کړل، فرمائي: فقر د څلورو څیزونو نوم دے: (1): د مشائِخو (یعنې اَولیائے کرامو، کامِل پیر او د عاشقانِ رسول علمائے کرامو) عزّت کول، د هغوئي د بے ادبئ نه بچ کیدل (2): د خپل پیر صاحب د مُریدانو [یعنې پیر بهائیانو] سره نیک سلوک کول (3): کشرانو ته نصیحت کول، د هغوئي سره خیر خواهي کول (4): دُنیائي جګړې پریښودل-

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مونږه اَلْحَمْدُ لِله! قادریان یو، که پهٔ قادري سلسله کښې مو بیعت نه دے کړے نو هم د الله پاک پهٔ فضل سره د غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِعَلَيْه عاشقان یو، دا د قادري سلسلې 8 بنیادونه دي: (1): هره معامله د قرآن او د سُنَّت مطابق (پهٔ شرعي راهنمایۍ کښې) کول (2): زړهٔ د بغض او د کینې وغیره نه پاک ساتل (3): سخاوت (4):

---

[1] ... سنن الترمذی، کتاب الدیات، باب ماجاء فی العفو، الحدیث: ۱۳۹۸، ج۳، ص۹۷۔

خیر خواهي (5): نور د تکلیف نه بچ کول (6): د لارې نه ضرر رسوونکے څیز لرې کول (7): معاف کول (8): او فقر یعنې د علماؤ او مشائخو ادب کول، د خپل پیر صاحب د مُریدانو [یعنې پیر بهائیانو] سره نیک سلوک کول، په کشرانو باندې شفقت کول او دُنیائي جګړې پریښودل- مونږ له پکار دي چې مونږه دا 8 واړه کارونه وکړو، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! د دې په برکت به د غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه فیضان نصیب کیږي، د هغوئي سره به نسبت مضبوطیږي او که الله پاک وغوښتل نو د طریقت په لاره کښې به مو اوچته مرتبه نصیب شي- الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## لور د الله پاک نعمت دے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! ۱۱کتوبر په ټوله دنیا کښې د ماشومانوجینکو متعلق نمانځلےشي ،راځئ په دغه مناسبت سره د الله پاک د دې نعمت لږه تذکره کوو-
الحمد الله !لونړه د الله پاک نعمت دے او د نعمت په میلاویدو د الله پاک شُکر ادا کول پکار دي خو په دې نعمت باندې د خفګان اظهار کول د غیر مسلمو طریقه ده- په صراط الجنان کښې دي: د لور په پیدا کیدو باندې د غم اظهار کول د غیر مسلمو طریقه ده- [(1)] که د چا لور پیدا شي نو هغۀ له د خفګان نۀ بلکې د خوشحالۍ اظهار کول پکار دي چې ✿ په کوم کور کښې چې لور پیدا شي فرښتې هغه کور والؤ ته د سلامتیا د نازلیدو زیرې ورکوي- [(2)] ✿ په کوم کور کښې چې لور پیدا شي د هغې د کفالت کوونکې به د

---

1...صراط الجنان،334/5

2...بیٹی کی پرورش،ص12

قیامت پۀ ورځ مدد کولے شي- [1]

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د لونړو پالنه کول د سعادت مندو حصه ده او لونړه به د قیامت پۀ ورځ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! دوزخ ته ډال جوړیږي- خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد وفرمائیلو: د چا چې لور وي هغۀ هغې ته پۀ ښه طریقه ادب وښائي، ښه تعلیم ورکړي او د الله پاک ورکړے شوؤ نعمتونه پرې ولګوي نو دا لور به د هغۀ د پاره وور ته ډال او خنډ [رکاوټ] جوړ شي- [2] الله پاک دې مونږ ته د لونړو سره د مینې کولو، د هغوئي د حقونو پوره کولو، د هغوئي د زړۀ ساتلو او د هغوئي د ښه پالنې کولو توفیق راعطا کړي- اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## پۀ 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: هفته واره اجتماع

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د نیک نـمونځ ګزاره جوړیدو، د ګناهونو نه د بچ کیدو او د نیکو د جذبې موندلو د پاره د عاشقانِ رسول د دِیني تحریک دعوتِ اِسلامي سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ! پۀ 12 دیني کارونو کښې هم ښه پوره برخه اخلئ! د دې پۀ برکت به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! د دین او دنیا بے شمیره خیرونه درنصیب شي- پۀ 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: هفته واره اجتماع هم ده- ❀ د هر زیارت پۀ ورځ د ماښام د نـمانځه نه پس د دعوتِ اِسلامي هفته واره اجتماع کیږي، پۀ دې کښې تلاوت، نعت، د سنتو نه ډَک بیان، ذِکر او د ژړا ډَکه دعا کولے شي ❀ تاسو ته خواست دے ❀ تاسو هم پۀ دې هفته واره اجتماع کښې پۀ پابندئ سره شرکت کوئ! ❀ پۀ دیني اجتماع کښې د کښیناستو او د ذِکر کوونکو خو به خپل خومره ښکلے شان وي! د حدیثِ پاک مطابق څوک چې د دوئي

---

[1] ...بیٹی کی پرورش، ص13

[2] ...اللہ والوں کی باتیں، 77/5

پۀ خوا کښې کښيني، هغۀ هم بدبخته نه پاتې کيږي[1] ❁ اَلْحَمْدُ لِلّٰه! پۀ هفته واره اجتماع کښې ذِکر کيږي ❁ عِلم دِين زده کيږي ❁ پۀ نيک صحبت کښې کښيناستل او ❁ پۀ جومات کښې وخت تيرول نصيب کيږي ❁ يو اهم برکت دا چې د ديني اجتماع د پاره تلل هم د الله پاک پۀ لاره کښې وَتل دي، چې **هفته واره اجتماع** ته تشريف راوړئ نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د کور نه د وتلو نه واخله تر واپس تللو پورې به ټول وخت د الله پاک پۀ لار کښې شميرلے کيږي ❁ د هر زيارت پۀ ورځ پۀ پابندۍ سره پۀ **هفته واره اجتماع** کښې د اَوَّل نه تر آخره پورې د شرکت کولو پوخ نيت وکړئ!

## د شوکمار توبه

پۀ کراچۍ کښې پۀ يو ځائے کښې د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه بيان وو، يو اِسلامي ورور پۀ دې اجتماع کښې د شرکت پۀ غرض روان شو، څنګه چې پۀ يوه تنګه تيارۀ کوڅه کښې راتاؤ شو نو يو شوکمار يې پۀ مرۍ باندې چاړه کيښودله او پۀ زوردار اواز کښې يې وه وئيل: څۀ چې درسره دي هغۀ راوباسه- هغه اِسلامي ورور ډير پۀ نرمۍ سره وه وئيل: څۀ چې تاسو ته ميلاؤيږي واخلئ، شوکمار د جيبونو تلاشي شروع کړه، د يو جيب نه د عطرو شيشه، نو د بَل نه تسبيح راووتله- شوکمار پۀ غصه کښې وه وئيل: چرته ځې؟ اِسلامي ورور ډير پۀ نرمۍ سره وه وئيل: زمونږ د شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه بيان دے، پۀ هغې کښې د شرکت کولو د پاره ځم- دا يې چې واوريدل نو شوکمار خاموشه شو، د خاموشۍ نه يې فائده واخستله او اِسلامي ورور هغۀ ته د نيکۍ دعوت ورکړو او اوئې وئيل: تاسو هم اجتماع ته راځئ! پۀ غلې لهجه او نرم اواز کښې ورکړے شوي د خلوص نه ډک دعوت پرې اثر وکړو او شوکمار وه وئيل: ځۀ زۀ

[1] ... مسلم، کتاب الذکر والدّعا...الخ، باب فضل مجالس الذکر، صفحه:1037، حديث:2689۔

هم درسره ځم۔

اجتماع ته چې ورسيدلو نو د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه زيارت يې وکړو، بيان يې واوريدو، د اجتماع نه پس هغه شوکمار د نیکۍ دعوت ورکوونکي اِسلامي ورور ته چاړهٔ وړاندې کړه او اوئې وئيل: دا تاسو واخلئ، اوس ما ته د دې حاجت نشته ځکه چې ما د خپلو ګناهونو نه ربښتونې توبه کړې ده او د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پهٔ ذريعه د غوثُ الاعظم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه مُريد او عطاري جوړ شوے يم۔

چور ڈاکو آؤندے نیں نمازی بن جاندے نے
مِٹھا مرشدؔ ویکھو تقدیراں اے سنواردا

عاشق لندن پیرس دے حاجی بن جاندے نے
میرا پیر میرا پیر میرا پیر میرا پیر

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## بهارِ شریعت (Bahar e shariyat) موبائل ایپلي کیشن

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! نن سبا د ټيکنالوجۍ دور دے۔ اَلْحَمْدُ لِلّٰه! عاشقانِ رسول دیني تحریک دعوتِ اسلامي د سمارټ فون (***Smart phone***) پهٔ ذريعه هم پهٔ مختلف انداز کښې د نیکۍ د دعوت عام کولو کوشش کوي، دې لړ کښې د دعوتِ اِسلامي د ***I.T*** ډيپارټمنټ له خوا ډير ښکلے، ځانګړے او ډير فائده مند موبائل ایپلي کیشن د بهارِ شریعت (***Bahar e shariyat***) پهٔ نوم جاري کړے شوے دے ❀ د صدر الشّريعه، مولانا امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د ډير اعلیٰ کتاب بهارِ شریعت درې واړه جلدونه پهٔ دې ایپلي کیشن کښې شامل کړے شوي دي ❀ پهٔ دې ایپلي کیشن کښې د بک مارک سهولت موجود دے ❀ فهرست موجود دے د دې سره سره پهٔ فهرست کښې د سرچ آپشن هم موجود دے ❀ د میټر سليکټ کولو، کاپي کولو او شيئر کولو آپشن هم موجود دے۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

❁ خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د ربيع الآخر شکلي مياشت شروع شوې ده، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د سلسلهٔ قادريه عظيم علمي او روحاني شخصيت اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه روزانه په مَدَني چينل لائيو مَدَني مذاکره کوي کومه چې به د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د لوئي يولسمي شريف پورې جاري وي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول په دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړئ او نورو له دې هم دعوت ورکړئ ❁ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د يوې دِيني رسالې د لوستو اعلان کوي، په راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رساله د شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بيانونه اعلان کولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر (*Share*) کړي! ❁ خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دورغ يو معاشرتي ناسور دے کوم چې د ډيرو خرابيانو سبب جوړيږي- د دروغو د غندنې [يعني مذمت] او د دې د خرابيانو او نقصانونو نه د ځان خبرولو د پاره مکتبة المدينه يو کتاب په نوم د جهوټ چاپ کړے دے- تاسو دا کتاب د مکتبة المدينه د يوې څانګې نه په 30 روپي په بيعه واخلئ- دا پخپله هم ولولئ! او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ! ❁ د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د لوئي يولسمي شريف په موقع مجلسِ تقسيمِ رسائل وړاندې کوي: فيضانِ غوثيه پيکج- دا پيکج هم د مکتبة المدينه د يوې څانګې نه په 200 روپي په بيعه حاصل کړئ!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د بیان په اخره کښې د سُنّتو فضیلت او د ژوند د یو څو ادابو بیانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغۀ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغۀ به په جنّت کښې زما سره وي- (1)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د اوده کیدو او راپاڅیدو سُنت او آداب

د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: کوم کَس چې د مازدیګر نه پس اوده شي او د هغۀ عقل لاړو نو هغۀ دې خپل ځان ملامته کوي- (2)

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د اوده کیدو نه مخکښې بستره ښه وڅنډئ چې که چرې څه ضرر رسوونکے څیز وغیره وي چې لرې شي ❀ د اوده کیدو نه مخکښې دا دعا ولولئ اَللّٰهُمَّ بِاسْمِكَ اَمُوْتُ وَاَحْيَا- ترجمه: یا الله پاکه! زۀ ستا د نوم سره مرم او ژوندے کیږم (یعني اوده کیږم او راپاڅم) ❀ د ورځې په وړومبنی حصه کښې اوده کیدل یا د مابنام او ماسخُوتن په مینځ کښې اوده کیدل **مکروه** دي- ❀ په ماسپښین کښې قیلوله (یعني لږ وخت سملاستل) مستحب دي ❀ په اوده کیدو کښې مستحب دا دي چې په اوداسه کښې اوده شي د لږ وخت د پاره په ښي اړخ او ښي لاس د مخ لاندې کیږدي او مخ په قبله اوده شي بیا د هغې نه پس په ګَڅ (یعني کینړ) اړخ ❀ د اوده کیدو

1...تاریخ دمشق، جلد:9، صفحہ:343۔
2...مسند ابی یعلی، جلد:4، صفحہ:121، حدیث:4915۔

پۀ وخت قبر کښې ملاسته ياده کړئ چې هلته به يواځې سملاستل وي، د خپلو عملونو نه علاوه بل هيڅ څيز به راسره نه وي ❀ د سملاستو پۀ وخت د الله پاک پۀ ياد کښې مشغول اوسيږئ، تَهلِيل و تسبيح وتحميد لولئ (يعنې د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ، سُبْحَانَ الله، او اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ورد کوئ) تر دې چې اوده شئ، چې پۀ کوم حالت کښې انسان اوده شي پۀ هغې پاڅيږي او پۀ کوم حالت چې مړ کيږي د قيامت پۀ ورځ به پۀ هغه حالت کښې پاڅيږي ❀ د راپاڅيدو نه پس دا دُعا لولئ: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَحْيَانَا بَعْدَ مَا اَمَاتَنَا وَ اِلَيْهِ النُّشُوْرُ، ترجمه: ټول تعريفونه الله پاک لره دي چا چې مونږ د وژلو نه پس راژوندي کړو او هم د هغۀ پۀ لور واپس ګرځيدل دي ❀ کله چې د هلک او جينۍ عمر لس کاله شي نو دوئي بيل بيل سملول پکار دي بلکه د دومره عمر هلک دې د دومره عمر هلکانو (يعنې د خپل همزولو هلکانو) يا د دوئي نه د غټو سړو سره هم نه سملي ❀ هلک چې کله د شهوت حد ته اورسي نو هغه د سړي په حکم کښې دے ❀ کله چې د خوب نه راپيدار شئ نو مسواک کوئ ❀ د شپې چې کله راپاځئ نو تهجد ادا کوئ دا د لوئې سعادت خبره ده-
(1)

میں سو جاؤں یا مصطفےٰ کہتے کہتے | کھلے آنکھ صَلِّ علیٰ کہتے کہتے

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اِسلامي پۀ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-

سنتیں سیکھنے تین دِن کے لئے | ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو

---

1...550 سنتیں اور آداب، صفحہ:38-40۔

رب کے در پر جُھکیں، اِلتجائیں کریں | باب ِرحمت کھلیں، قافلے میں چلو[1]

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!   صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

---

1...وسائلِ بخشش، صفحہ:670-671ملتقطًا۔